# دافغانستان دڅیړنو خبرپاڼه

دافغانستان دڅیړنو او ارزیابی واحد AREU دری میاشتنی خپرونه
اومه شماره اکتوبر ۲۰۰۵

## په دی ګڼه کې:

| | |
|---|---|
| اوسنی څیړنې او سرچینې | ۲ |
| د دولت جوړونې اودتجارتي امنیت دبرابرونکو مطالعه | ۲ |
| دایکاردا څیړنې | ۲ |
| دبناري ژوند په اړه تازه څیړنهAREU | ۴ |
| په افغانستان کی دلړمانو په هکله دمعلوماتو راټولونه | ۵ |
| مهمي خپروني | ۶ |
| مدني ټولنه | ۶ |
| قومیت | ۷ |
| جنسیت | ۷ |
| حکومت | ۸ |
| روغتیا\ تغذیه | ۸ |
| بشري حقوق | ۹ |
| حقوقي مسایل | ۱۰ |
| بیارغاونه | ۱۱ |
| دافغانستان دڅیړنې او ارزیابۍ واحداوسنۍ او راتلونکي خپروني | ۱۲ |
| په پاکستان کی دافغانانو سرشمیرنه ۲۰۰۵ | ۱۳ |
| نوري خپروني | ۱۵ |
| پوهنه | ۱۵ |
| ټاکني | ۱۵ |
| اقتصاد | ۱۶ |
| جنسیت | ۱۶ |
| ځمکه پیژندنه | ۱۶ |
| روغتیا | ۱۷ |
| بشري پرمختګ | ۱۷ |
| عدالت | ۱۷ |
| ځمکه او شتمني | ۱۷ |
| نقشي | ۱۷ |
| رسنۍ | ۱۸ |
| هجرت | ۱۸ |
| موسسې | ۱۸ |
| تریاک | ۱۸ |
| امنیت | ۱۹ |
| تخمونه | ۱۹ |
| سرشمیرنه | ۱۹ |
| میرمني | ۱۹ |
| افغانستان او دحکومت کولو دپروژې نقش | |

ددغې خبرپاڼې موخه لوستونکي دافغانستان په اړه دنویوو څیړنو څخه خبرول دي، او دنورو خپرونو او څیړنو له پایلو سره مرسته کوي،دافغانستان دڅیړنو او ارزیابۍ واحد له موخو څخه ده چې دغه خبرپاڼه په پرله پسې توګه نشر کړي، دبیلابیلو څیړنیزوخپرونو نقلونه په انترنت کی ترلاسه کیدلای شي، اوتاسو کولای شۍ دا خبرپاڼه له لاندې بریښنالیک څخه ترلاسه کړئ:

newsletter@areu.org.af

## اوسنۍ څېړنې او سرچينې:

دا برخه چې اوس له چاپه راوتلې د څېړنيزو پروژو او له اړوندو سرچينوسره وړاندې کيږي. ټول هغه معلومات چې په دې ګڼه کې وينۍ په يو تن يا يو سازمان پورې اړه لري او ښايي ددغو پروژو حالت د خپرونې دچاپ پرمهال بدلون موندلې وي.

## د دولت جوړونې اودپيسوپه بدل کې د امنيت برابرونکو مطالعه

دغه مطالعه دملګروملتونودغوره سوله ساتي عملياتي څانګې او دسولې دنړيوالې اکاډمۍ لخوا تمويليږي چې له دې لارې په جګړه ځپليوو هيوادونو کې دنړيوالې ټولنې دپلټنې اغيز پرتجارتي امنيت برابرونکو ددولتي پرمختيا په موخه وکاروي. چې دغه کړنه په ځانګړې ډول لاندې پوښتنې ځوابوي :

* کومې لارې دي چې بيلابيلی بشري، بيارغاونيزي او له جګړې وروسته مرسته کوونکی اداري له دغو ډلو سره کار وکړي؟ او دبيلابيلو اړيکو پايلې څه دي ؟

* ايا ځايي امنيتي څانګې او مليشه دبشري هوساينې پرادارو، امنيتي سکتور او ددولتي رغاونې پرجريان کوم اغيز پريباسي؟

* ايا دنړيوال امنيتي شرکت ګومارل د ځايي توازن قدرت ته مثبت بديل وربخښي او نور يي منفي خواته بيايي؟

ددغې مطالعې موخه داړوندو مسايلو په هکله دنړيوالو بشري،بيا رغاونيزو او له جګړې وروسته د مرسته کوونکو سازمانونو دتجربوټرل اوپرتله کول دي. څيړونکي دبشري، بيا رغاونيزو او له جګړې وروسته دمرسته کوونکوسازمانونوپه هکله په افغانستان او يا نورو سيمو کې دلاندې پوښتنو له مخې معلومات لاسته راوړي:

* دکومو لارښوونو او کړنلارو له مخې تاسو له تجارتي امنيت برابرونکو سره معامله کوئ؟

* هغوی تاسو ته کوم خدمت ترسره کوي؟

* څرنګه تاسو دهغوځانګوقانونيت په ګوته کولای شې چې تاسو ورته دامنيت دتامين لپاره پيسې ورکوئ؟

* تاسو ددغو ځانګو،چې دامنيت دتامين لپاره له تاسو پيسې اخلي کار څرنګه ارزوئ؟

* که چيرته دامنيت ساتونکي په خپل کار کی ناکام شي څه پيښيږي؟

* اياتاسو دامنيت برابرونکو په هکله تر اوسه دبشري،بيارغاونيزو او له جګړې وروسته دمرسته کوونکو سازمانونو سره خپل معلومات شريک کړي؟

* ددغوامنيتي ځانګو دکار اغيز څنګه وينۍ؟ ايادمحلي ټولنې لپاره يي کارپيدا کړی؟ ايا دامنيت برابرونکو حالت ته يي پرمختګ ورکړی؟ اياستاسو او يانورو سازمانونو چې له تاسو سره يوځای کار کوي امنيت ښه کړی؟

ډېرو معلوماتو، ځوابونو، تبصرو اويا پوښتنولپاره په لاندې پته اړيکي ونيسۍ:

Jams Cockyane, NYU School of Law at  
or James.cockayne@nyu.edu  
+1(718)9098023

## دايکاردا ICARDA څيړنې

په وچو سيمو کې دکرهنې دڅيړنو نړيوال مرکز (ايکاردا) په 1977 م کال کې رامنځته شوې دې. نوموړې مرکز يو له هغو پنځلسو مرکزونو څخه دي چې دکرهنې دنړيوال مشورتي ګروپ له خوا يي ملاتړ کيږي. دايکاردا هدف دادې چې وکولای شي په وچوسيمو کي دڅيړنو او روزنيزو پروګرامونو له لارې دبيوزلو خلکود ژوندکچه دتوليد او خوراکي توکو دکيفيت لوړولو له مخې لوړه کړي.

نوموړی مرکز دسوريې په عربي جمهوريت دحلب په ښارکی پروت دی او په بيلابيلو هيوادونو کی پرکرنيزو فعاليتونو بوخت اودنړيوالوسازمانونو له خوايې ملاتړ کيږی.

دايکاردا د څو پروژو په اړه چې په افغانستان کی فعالی دی :

### 1- رالف (دبديل معيشت لپاره دپانګونې څيړنه) RALF:

افغانستان اوس مهال دنړۍ ترټولو ستر دافيومو اونشه يي توکو توليدونکی اوصادرونکی هيواد دی . دنشه يي توکو توليد او خرڅلاو دسيمی پرامنيت او اقتصاد ډيرناوړه اغيز ښندلی چې په دغه لړکی خپله افغانستان ترټولو لومړی هيواد دی چې ددغه توکي څخه اغيزمن کيږی اوله

پرمختګ څخه یې پاتې کوي. دافغانستان دولت په 2003 کال کې دکوکنارو دکښت دکچې دراټیټولو په موخه دنشه يي توکو دکنترول یوه ملی ستراتیژي جوړه کړه چې په نتیجه کې یې اویا په سلو کې دکوکنارو کښت په پنځو کلونو او پاتې به يي په راتلونکولسو کلونو کې له منځه یوسی.

دلریوو پرتو سیمو له سلو څخه تردیرشو فیصدو پوری وګړي دکوکنارو پرکښت بوخت دی. ځکه چې ددغه بوټي کښت په اقتصادی لحاظ دخلکو لپاره دپیسو دلاسته راوړلو یوه غوره سرچینه ده. نو که چیرته دولت او یا دنشه يي توکو ضدډلې ددغه کښت مخنیوی کوی نو په کارده چې ددغه کار دپلي کولولپاره بزګرانوته دژوند دپرمخ بیوولو په لاره کې یو دوامداره بدیل توکی وړاندی کړي. چې اوس د انګلستان حکومت دهمدغی موخی پربنسټ په افغانستان کې یوکاری پلان تر لاس لاندې نیولی چې په هغې کې دخلکو دژوندانه دلوړولو په منظور دیوبدیل دوامداره توکی وړاندی کول شامل دی.

همدا ډول لاندې پروژې درالف په پروګرام کې شاملې دي:

*په لغمان ولایت کې په محلي څیړنو ولاړه یوه پروژه چې دکلیوالو اتحادیوو دځرنګوالي، دژوندانه دغوراوي تحلیل او بازارموندنی پر موضوعګانو باندې څرخي دواشنګټن سټیټ پوهنتون، ډاکار،او دکرهنې ،مالداري او خوراکي توکو دوزارت له خوا تمویلیږي.

* دافغانستان په ختیځ ننګرهارکی دحبوباتو او ترکاري باب پیژندنه، ارزونه،او پرمختګ چې دریلیف انترنشنل، دنړیوال ترکاري باب مرکز، ننګرهارپوهنتون، او دنړیوال پرمختیایي سازمان لخوا پرمخ وړل کیږي.

* دبازارموندنې داړیکو په موخه یوځیړنیزپروګرام په غور ولایت کې د سي ار ایس CRS او ایکریست ICRISAT لخوا پرمخ وړل کیږي.

* په بدخشان ولایت کې داغاخان فوندیشن او د انګلستان دطبیعي سرچینو انستیتوت یوه پروژه تر لاس لاندې نیولې چې دژوندانه دبنه والي په موخه کوچني پورونه هغوخلکو ته برابرکړي چې دتریاکوپه تولیدبوخت دي.

* دافغانستان په ختیځ او شمال ختیځو سیمو کی د اینلي( نعنا)پروژه چی دترکاری او درملنې په منظورد ژوندانه دغوراوي د یوښه بدیل په توګه رامنځته شوې دایکاردا، دکرنې مالدارۍ او خوراکي توکو وزارت او دهندوستان د درملنې او خوشبویه بوټو دمرکزي انستیتوت لخوا تمویلیږي.

* په هرات ولایت کی ددوامداره تولید او کامیاب بازار د درلودو له مخې دزعفران په اړه څیړنه. چی د ډاکار، واشنګټن سټیټ پوهنتون او دکرنې ، مالدارۍ او خوراکي توکو دوزارت لخوا تمویلیږي.

* دمالدارۍ او دمالدارۍ دتولیدپه هکله دبازارموندنې څنځیر، دسوداګریزي راکړې ورکړې کمیت او دبازارموندنې دفرصتونو دپیژندنې په اړه د انګلستان دماکولي دمشورتي خدماتوڅیړنه، Macaulay Research Consultancy Service (UK) مرسي کورپس،Mercy Corps ایکارداICARDA او دکرنې مالدارۍ، او خوراکي توکوMAAH دوزارت ګډه پلټنه.

* په بغلان ولایت کی دشیدو او د غوره وښو (ګیاه) دتولید له مخې دمحلي عایداتود اصلاح او پرمخ بیولو مطالعه چی د ایکاردا، اغاخان فوندیشن ، دکرنې ،مالدارۍ او خوراکي توکووزارت او دمارکولي دمشورتي خدماتوڅیړنې لخوا پرمخ وړل کیږي.

دډیرو معلوماتو لپاره لاندې ویب سایت وګورۍ:
www.icarda.org/publications/Donors/Afghanistan/Afghanistan...and...ICARDA.HTM

## په افغانستان کی دخوراکي توکو دغوره حاصل په منظوردتخم دسیستم غښتلي کول :

دغه پروژه دڅیړنو دنړیوال پرمختیایی مرکز (ای ډي ار سي IDRC )په مالي مرسته رامنځته شوې او هدف یې دعامه پوهاوي له لارې دافغانستان دشمال په للمي سیموکي دمحلي تخم د سیستم پیژندل اودرسمي سیستم سره دغیررسمي یا محلي تخمونو پرتله کول دي.

ددغه کارلپاره څلور څانګي په نظر کی نیول شویدی:
1- دمحلي تخمونو غوره ډولونو ته دبزګرانولاس رسیدنه
2- داصلاح شویوو تخمونو د بازار وده او پرمتخګ
3- دبزګرانواتحادیوو ته پراختیا ورکول اودکلیوو پرسطح دتخونو راکړه ورکړه.
4- دپروژو داغیزکنترول او ارزیابی کول.
نوموړی پروژی همداډول دحاصلاتو لکه غنم ، اوربشی، می ، لوبیا ، وریجی ،هندوانه او عدسو بیلابیل 677 ډولونه راټول کړي. چی لاتر اوسه هم دافغانستان دشمال په باراني سیموکې یوه زیاته اندازه جینیتکی سرچینی شته دی.

## په افغانستان کی پر ولسي بنسټ ولاړه دکرنیزی پرمختیا

### په دوامدار ډول دسرچینو تنظیم او څیړنه :

دغه پروژه دنړیوال پرمختیایی فنډ ( OPEC ) لخوا تمویلیږي چی دغلجاتو او حبوباتو دنویوو توافق لرونکو ډولونو څیړنې پرمخ بیایی. همداډول دغنمو دهغو ډولونو چی دافغانستان داقلیمی حالت سره توافق لري تولیدول دي.
چی په دغه لاره کی له 2003 څخه تر 2004 پوری ټولی 48 تجربی ترسره شویدي چی دغنمو د 15 مختلفو ډولونو څخه یی نژدی ۱۳۳,۷۷ کیلو ګرامه داعلی کیفیت لرونکي تخم چی دبزګرانو له خوا دافغانستان په ختیځو او شمالي ولایتونو کی له کبنت وروسته تولید کړی لاسته راوړي دي.
که چیرته دغه تخم په سمه توګه وکارول شی ، نوبزګران کولای شي چی په 2005 کال کی 2675 ټنه دغنمو غوره او اصلاح شوی تخم تولید کړي.

## دافغانستان دځیړنې او ارزیابۍ واحد دښاري ژوندانه نوې څیړنې

داروپايي ټولنې لخوا تمویلیدونکي پروژه چی دښاري ژوندانه دښه والي اوځرنګوالي دمطالعې له پلوه دجلال اباد، کابل او هرات په ټاکل شویو ځلویښتو کورنیوو ترسره شوه، دغه پوښتنې رادمخه کیږي چی څرنګه خلک دکارونو پسې لټه کوي، له بدلون سره څرنګه تعامل وکړي اوي پخپله بدلون رامنځته کړي، دخپل ژوندانه دغوراوي لپاره دکوم ډول ستراتیژۍ تمرین وکړي.
دژوندانه دغوراوي ستراتیژي پیچلې، نیول یي ستونزمن او دغربت او بیچارګۍ پرمهال یوډول بدلون ته تمایل لري. ددغو ستراتیژیوو ځنې اړخونه په لاندې ډول دي :

### دکارګرو بازاري بوختیا:

دکورنیوو لپاره یواځې یوڅومصون اومناسب فرصتونه دباقاعده دندي دلرلولپاره شته چی معمولا دخپلځاني کار، اویا دورځې مزد مزدورۍ له پلوه خپل عاید ترلاسه کوي. ددغه پاټکي ګډونکوونکي کولای شي خپلوعایداتو ته بدلون ورکړي. خو هغه کسان چی په غیررسمي ډول ورځی مزد لاسته راوړي او کار یي ثابت نه وي نو دوی ډیروخت نورو کارونو ته دپیسو دلاسته راوړلو لپاره سترګي په لار وي . او هغه کسان چی په خپلځاني کارونو لکه دسرک پرغاړه دتوکو خرڅول او یا دګاډی چلولو کار کوي سره له دی چی عاید یي کم وي خوډیر باثباته دي.خو دکورنیوو دمزدورۍ د پراختیاقوت کله کله دعدم مصونیت سره لکه دلږعاید لاسته راوړنې سره مخامخ کیږي.
په هرحال باید دا ومنو چی دسړي اقتصادي فرصتونه نسبتا ښځی ته ډیر غوره دي او دکورنیوو جنسي ترکیب دبیلابیلو عایداتي سرچینو اوکارونو په لړ کی غوره نقش لوبوي.

### سپما ، پور اخستل، پانګه اچونه:

دډیره غریبو ښاریانو لپاره دا ستونزمنه ده چی په غیرمصونو حالاتوکی سپما وکړي، نویوځل بیا ویل کیږي چی په دغه لاره کی دمناسب کار موده او دمصون پلان جوړول یو قطعي عنصر دي.نو ددغو حالاتو په نظرکي نیولو سره، پورونو(قرض) ته لاس رسیدنه یوه پریکنده سرچینه ده او خلکو ته ددی وړتیا ورکول چی د خپلځاني کارونو په لاره کی پانګه واچوي .

### ګټور او بیا تولیدونکي فعالیتونه، عایدات، کارګر او د شتمنیوو راټولونه او ټولنیزه کاري شبکه:

دکورنیوو ترمنځ اړیکې او دکار ویش د غوره ژوندانه دمصونیت په لاره کي یواغیزمن فکتور ګڼل کیږي، په هرات ولایت کی ښځې د کورني

عايد دغبنتلي کولو لپاره له کاريگر قوت سره يوځای کيږي، همدا ډول دکوچنيانو کارکول يوه بله مهمه پيښه ده چی په ټولو ښارونوکی دښوونځي او کار ترمنځ يوډول بريالي جوړ جاړې ترسترگو گيږي. همدا ډول په ځينوغريبو ښارميشتو کی ديوی سوداگريزي متاع په توگه دنجونو پلورل او دښځي دولور دستونزي له امله دماشومتوب ودونه يوه بله ستونزه ده، چی دټولنيزی کاري شبکې په فعاليتونو کی راځي.

**دکورنۍ په جوړښت او اندازه کی ځان برابرونه :**

ښارميشته کورنۍ يو پيچلي او اساسي ټولنيز واحد دي، کله کله ددوی ترکيب او موقعيت دعايداتو دلاسته راوړلو په منظوردومره غځيږي چی ان له ښاره هم وځي دبيلگې په توگه زامن او دکورنې نارينه دکار دلټون پسې دهيواد اطرافو او ياهم له هيواده بهر ځي او هلته دخپل کاري هجرت په موده کی په موقتي ډول اکثره له خپلو خپلوانو سره اوسيږي او ځني هم پر خپله بودجه دفشارکمولو په منظور کليوالو سيمو ته خپلو خپلوانو کره ځي.

لومړيوو لاسوندونو(شواهدو)ښودلي چی دغوره ژوندانه طبيعي ستراتيژي دکورنيوو مطالعوپه واسطه استخدام شوې چی دظرفيتونو له نوعيت سره ورته والې لري چی له دوامدارو هڅو او ثابت امنيت سره يوځای پرمخ ځي. د دا وړ ژوندانه دغوروالي ستراتيژي په عمومي ډول په لاندې توگه درجه بندي شوي دي:

- هغه ستراتيژي يا اهداف چی د ناځاپي پيښو په وړاندې دزغم غبرگون رامنځته کوي.
- راکموونکي ستراتيژي يا اهداف دخطر په وړاندې دساتنې او دغوره ژوندانه دامنيت سطحې ته پاملرنه کول دي.
- زياتوونکي ستراتيژي چی له مخې يي دشتمنيوو د راټولولو ډيرښت صورت مومي.

پورتني معلومات دژوندانه په ستراتيژۍ کی دبدلون له مخې په ښارميشتو کورنيوو کی دظرفيتونو تغيرته لاره اواروي او دکاري ستراتيژيوو موخه دثروت راټولونه او ياهم دمصونيت په معنا ده، همدا ډول د بيا فعاليدو ضرورت له شتمنيوو څخه د فشار او عصبانيت درملنه او ورسره چلن کول دي.

دډيرو معلوماتو لپاره په دی پته اړيکي ټينگې کړئ:
Stefan Schuette at Stefan@areu.org.af
or 079-047210

## په افغانستان کی دلړمانو په هکله دمعلوماتو راټولونه

په افغانستان کی د لړمانو بی شميره ډولونه شته چی دبيلابيلو لاملونو له مخې ددغه ژوي پلټنه نه ده شوې، خو مونږ لږ څه پوهيږو چی په افغانستان کی څو ډوله لړمان اوسيږي اوڅه ډول ژوند کوي.

له افغانستان څخه دډيرو لړمانو په هکله راپور ورکول شوې چی دبوټيدا په کورنۍ پورې اړه لري او اغيزمن زهر لري. همدا ډول د اندروکتنس له جنس څخه لړمان په ډيرو هيوادونو کی ددرملنې دتوکو په توگه پيژندل کيږي. سره له دی چی په افغانستان کی هم دا وړ يولږ شمير لړمان ددرملنې دتوکې په ډول پيژندل کيږي خو له بل پلوه د هاتنتوتا التيکولا لړم په هکله ويل کيږي چی غبنتلي نيش لري خو دومره نه دی چی ژوندته خطر پيښ کړي.

دغه نيش زورور درد لري چی په محلي ژوندکی کله نا کله خپل اغيزپريباسي خوکيدای شي چی په ځينوموادرو کی يي اغيز ډير شدت ومومي.

ترهغه ځايه چی مونږ ددغو لړمانو دډولونو په هکله پوهيږو نو ويلې شو چی دا ژوي دماشومانو او دپوخ عمرانسانانو لپاره يو بالقوه خطر له ځانه سره لري.



ددغه موضوع څیړونکې جان او رین چی دناروي دساینس او تکنالوجۍ دپوهنتون د طبي کتابخوني او دمعلوماتو دمرکز پوري اړه لري، په افغانستان کی دلړمانو دډولونو او دهغوی دنیش او درملني دمطالبوپه اړه له عکسونو سره دمعلوماتو د را غونډولو لیوال دي ، تاسو کولای شي له نوموړي سره په دی پته اړیکي ونیسی:

Jan.rein@ub.ntnu.no Or visit
www.ub.ntnu.no/scorpion-files/afghanistan.php

---

## مهمي خیروني

**په دغه برخه کی دهغو تازه څیرنیزو خپرونو مهمي برخي چی دافغانستان دڅیرني او ارزیابی واحد تردی دمه او یا د مني ۲۰۰۵ پورې ترلاسه کړي نشر ته سپاري**

# مدني ټولنه

Afghanistan Civil Society assessment: initiative to promot Afghan Civil Society (I-PACS) *I* assessment team leader Anika Ayrapetyants: lead research Eric S.Johnson, assessment team Susanne Schmeidl…[et al]. Washington, D.C: Counterpart International, 2005. 54 leaves, 30 cm.” June 3, 2005”

دمدني ټولني داوسني حالت تشخیص او ټاکنه دغوره پوهاوي په منظورپه افغانستان کی دیوې سالمي مدني ټولني دجوړښت دضرورتونو ځواب دي.

دغه نظریه پرنړیوال بنسټ دامریکا دمتحده ایالاتو دنړیوالي پرمختیایي اداري دګډې همکارۍ او دهمدغي اداري په تمویلوونکي چوکاټ کی دافغاني مدني ټولني دپرمختیا په اړه رامنځته شوې. چی بنسټیز هدف یي په افغانستان کی دمدني ټولني دودې لپاره دمساوي مقرراتو او کړنلارو ځانګړې کول دي

دافغانستان دمدني ټولني نظریاتي سکتوردلاندینیو ارونو په لټه کی دی:

* دافغانستان په نیولیک کی دمدني ټولني دسک
* په هیواد کی د مدني ټولني داغیزاو طبیعت معرفي کول
* د استعدادونو دودې لپاره د لومړنیو ساحو تشخیص
* د دولت او مدني ټولني ترمنځ داړیکو لټون
* دسازماني پوخوالي په اړه دربنتینو توقعاتو تصفیه کول
* په قانوني چاپیریال کی د ضرورتونومشخص کول.
* رسنیوو ته دافغاني مدني ټولني داړیکو ورپیژندل.
* په دغه سکتور کی دشریکوالو ترمنځ داړیکو په نښه کول.

تمه کیږي چی دغه نظریه به یواځی دامریکا دمتحده ایالاتودپرمختیایي اداري د تمویلوونکو پروګرامونو لپاره نه بلکه دټولو هغو سازمانونو لپاره چی په افغانستان کی دپرمختیایي کارونو په ترسره کولو بوخت دي داستعمال وړ وي.

دمدني ټولني سازمانونه دافغانستان په بیا ودانولو کی ستر رول لري، دبنسټیزوپرمختیایي پروژو ترسره کول، او په ټول هیواد کی ټولنیزخدمتونه ترسره کول ددغو

سازمانونو فعاليت دی.په مارچ ۲۰۰۵ کی دمدني ټولنو لخوانزدې ۴۲۸،۳ پروژې تطبيق شوي دي.

هغه مهم فکتورونه چی دمدني ټولنو دپروګرامونو پر بشپړيدا اغيز پريباسي په لاندې ډول دي :

* دپروژو دتکميل لپاره په افغانستان کی دمدني ټولنودکارونو ثبات .

* دمدني ټولنې دسکتور دبنسټيزې رسيدنې ټيټه سطحه.

* دنويوو سازمانونودډيرو پيسو د درلودو مسوليت..

* په نسبتي ډول ستر باور چی محلي ډلې يي دنويوو اصلونوسره دپرتله کولو خوند اخلي.

دډيرو معلوماتو لپاره وګورۍ:

www.counterpart.org

## قوميت

Ethnoscapes, national territorialisation and the Afghan War/ Conrad Schetter Published in Geopolitics, 10:50-75, 2005.

دا مقاله هغه پوښتنه څاري چی څه ډول دافغانستان دولسواکه دولت په جوړښت کی دسيمه .ايزوالي ځواک دسياسي لوبغاړو او نورو خلکو پر پوهه خپل اغيزښندلې دی.

چی دغه پوښتنه په ځانګړي ډول دهغو مکاني سرچينوپورې تړاو پيداکوي چی په افغانستان کی دتوکميزسياست ترشا له خپل قوت څخه کار اخلي. دتوکم پرستۍ دغه مفکوره نه يواځې يوله بل سره دسيالۍ په معنی ده بلکه دافغانستان دملي هويت پرضد هم کارول کيږي.

د۱۹۷۹ کال راپه ديخوا چی په افغانستان کی جګړه پيل شوه بيلابيلو سياسي کړيوو هڅه وکړه چی خپلی اداري پرسيمه ايزبنسټ رامنځته کړي او خپلوګوندونوته پرتوکميز اصل ولاړ يوډول سياسي مشروعيت ترلاسه کړي.

ددی مقالي اصلي موضوع داده چی،دافغانانو لخوا دافغانستان دهويت ژوری پيژندنی دتوکم پالنې او تبعيض مخه نيولې ده. سربيره پردې مقاله په دی خبره زور راوړي چی دبيلابيلو توکميزوډلودسيمه ايز نه يووالي مفکوره داوسنې تودبحثي توکميز فدراليزم په وړاندې خنډ ګرځيدلې ده.

ددغه موضوع نقل دليکوال څخه په دغه بريښناليک ترلاسه کولای شئ:

c.schetter@uni-bonn.de

## جنسيت(جندر)

The politics of gender and reconstruction in Afghanistan/ Deniz Kandiyoti, Geneva, United Nations Research Institute for Social Development (UNRISD), 2005. 37 p ; 30 cm. ISBN 9290850566. (United Nations Research Institute for Social Development (UNRISD). Occasional paper, 4 ) " February 2005"

ددغی موضوع اصلي موخه په افغانستان کی دښځينه حقوقوپه اړه دبحثونو رانغاړل دي. له جګړې ترسولې امنيتي بدلون،دېواغيزمن دولت جوړيدولپاره سياسي بدلون او دجګړه ايزاقتصاد څخه د دوامداره وده کوونکي اقتصاد بدلون هغه اوښتون دی چی په ټولنيزتشيال(خلا) کی نه رامنځته کيږي بلکه منظمو ټولنيزو حالاتو او فرصتونو ته ضرورت لري.

ددغې پاڼې لومړۍ برخه په افغانستان کی د دولت جوړونې او اودټولنيزو اړيکوپه ځانګوکی دښځو دحقوقو دتامين هڅې ځای پرځای شوي دي. په دويمه برخه کی دجګړې دکلونو اوهغو مهاجرتونو له امله چی دشوروي اشغال له مهاله وشو ټولنيز بدلون ته نغوته کوي. او دريمه برخه يي ددولتي پرمختيا او هغو اصلاحاتو په اړه ده چی ۲۰۰۱کال دبن دپريکړو له مخې رامنځته شوي دي.

ددغې پاڼې پای له جګړې وروسته دنظريوو ترمنځ د توپيردبدلون په اړه پام ځانته اړوي. همدا ډول زياتوي چی، د دولتي سمون او قانونيت هڅې دامنيتي سکتور په برخه کی

دخلکو دغوره ژوندانه په لاره کی ګړندۍ شوي. همدا راز له یوې خوا دوخت سره سم دنړیوالو کارکوونکو لخوا دښځمنو دحقوقو داجندا پرمخ بیول او له بلې خوا دوخت اندازه په تولنیزو اړیکوکی دسولې دټینګښت په لاره کی دبدلون پر موخه په کار وړل کیږي.

له هغه مهاله چی په افغانستان کی دښځو دحقوقو نعره راپورته شوې دیوې حساسي سیاسي مبارزې په توګه یي دسیاسي کړیوو ترمنځ ځای پیدا کړې، او دنظریوو دغه جلاوالې ښایي غیرارادي هڅي رامنځته کړي چی پایله به یي دښځو دځواکمنتیا له منځه وړل وي.

کولای شئ چی دغه پاڼه له لاندې ویب سایټ څخه راښکته(دونلود) کړی.

www.unrisd.org/publications/opgp4

## دولت

Afghanistan Parliamentary assistance project assessment and program options: draft for presentation to USAID/Afghanistan/by Stevens P. Tucker and David B. Ogle. [New York]: State University of New York/ Center for International Development, 2005, 75 p; 30 cm.

دغه موضوع دهغو تحلیلي توکو په برابرونه کار کوي چی په ترڅ کی یي د امریکا متحده ایالاتو هغه بسپنې چی دافغانستان دپارلمان لپاره د مرستندویه پروژوله مخې دملي شوراچی د ۲۰۰۵ کال په اوړي کی به وټاکل شي، دټاکنوسره دمرستو ارزونه او ترتیبول دي. دغه درې کلنه پروژه به دنیویارک دستیټ پوهنتون دنړیوالې پرمختیا دمرکز لخوا تطبیقیږي. ددغه موضوع په اړه ساحوي کار د نومبر د۱۷ او اود دسمبر۱۲ ، ۲۰۰۴ ترمنځ په کابل کی ترسره شوی.

ددغه ټاکونکي ګروپ موخه داسې وه چې:

الف: په قانوني توګه سیاسي بنسټ پوهیدنې ته رسیدنه چی په ترڅ کی یي نوې ملي شورا رامنځته کیږي.

ب: دهغو فکتورونو پیژندل چی دحالاتو له غوښتنې او دنوې اداري له مزاج سره جوړ دخلکو او سیاسي کارپوهانو له هیلوسره یوشان وي.

ج: ترممکنه بریده په اداري چوکاټ او اداري ضروروتونو کی ددغو غوښتنو دځای پرځای کولوهیله.

ددغی موضوع په هکله وګورئ:

www.dec.org/pdf_docs/PNADD565.pdf.

## خواړه او روغتیا

Nutritional risk in Afghanistan: evidence from the NSS pilot study (2003-2004) and NRVA 203/ Wendy Johnecheck and Diane Holland in collaboration with Ministry of Public Health, Afghanistan. Medford, Ma, USA. Feinstein International faming Center, Tufts University, 2005, 61 p, 30 cm.

دولتي ادارو او دروغتیایي چارو پوهانو له ۲۰۰۰ م کال راپدیخواخپل کاري وخت په افغانستان کې دخوراک دځرنګوالي په اړه پوهیدنې ته وقف کړې.ددغه راپور لومړنې اهداف دهغو شواهدو لاسته راوړل دي چی په افغانستان کی دملي څاروونکي سیستم د ۲۰۰۳- ۲۰۰۴مطالعو او دملي خطرونواو زیان مننې دتشخیص اداري ۲۰۰۳ کال داسنادو له مخې موجود دي. په افغانستان کی دغه دواړه فعالیتونه د ښه ژوندانه دغوره پوهاوي او ځانګړو ګټو د لاسته راوړلوسره په تړاو دغه توکي رانغاړي: دغربت له مخې زیان مننه، ناسالم خوراک، خوارځواکي او ددوۍ ګډ خطر. ددغه راپور هدف دادې چی دخوړو په اړه هغه راپور وړاندې کړي چی ددغو دواړو پلټنو(سروي) له مخې ترلاسه شوې دی.

تجربو ښودلی چی، دخوړو دمحصول په اړه ژورې پاملرنې ته اړتیا ده تر څو ددې ډاډ ترلاسه شي چی یوډول پرمختیایي پوهاوې چی په ترڅ کی یي هغه لاملونه چی دبشري پرمختګ په

چوکاټ کی دهغو مړینو دخطرونو راکمول چی دخوارځواکۍ له پلوه منځته راځي، وپیژندل شي.

همدا ډول دغه راپور نور مسلکي خدمات هم برابروي چی دبنسټیزپرمختګ، اقتصادي ودې، سالم ژوند اوپرخوراکي محصول ددې توکو داغیز پوهه ده.

ددغه راپور کاپي کولای شې له دغه ویب سایټ څخه ښکته کړئ:

www.mrrd.gov.af/vau/NRVA_2003.htm.

## بشري حقوق

Blood-stained hands: past atrocities in Kabul and Afghanistan's legacy of impunity / Human Rights Watch. New York: Human Rights Watch, 2005 127, 15 p, col, ill, 30 cm. ISBN 156432334x Includes bibliographical references.

دغه ۱۳۳ مخیزه راپور دبشري حقوقو دڅارونکي سازمان دهغو پراخو ځیړنو جونګ دې چی په تیرو دوه کلونو کی ترتیب شوې او په کی د عیني شاهدانو، ژوندیو پاتې شویوو ،دولتي مامورینواو جنګیالیووسره له ۱۵۰ څخه ډیرې مرکې هم شاملې دي . نوموړي راپورد ۱۳۷۱ هجري لمریز کال چی د اپریل ۱۹۹۲څخه تر مارچ ۱۹۹۳ پورې دهغوجنګي جرمونواوبشري سرغړونو په هکله اسنادوړاندې کوي چی په افغانستان کی دډاکټر نجیب الله دکمونستي رژیم له نسکوریدو وروسته دخونړیوو جګړو په ترڅ کی رامنځته شول. دغه راپور په لاندې ویب سایټ کی ترلاسه کیږي:

www.hrw.org

Casting shadows:war crimes and crimes against humanity, 1978-2001: documentation and analysis of major patterns of abuse in war in Afghanistan / the Afghanistan Justice Project. 168 p, 30 cm. Contains bibliographic references.

تاسو کولای شئ دغه پاڼه په دی ویب سایټ کی ترلاسه کړی:

www.afghanistanjusticeproject.org/

**A تر Z لاسته راوړئ:**

د ۲۰۰۵ کال دافغانستان ښوونې دغه مرستندویه او معلوماتي کتاب کولای شی دافغانستان دځیړنو او ارزیابی واحد څخه ترلاسه کړی. دغه کتاب د لسو امریکایي ډالرو په مقابل کی اخستلې شی.

پته:

AREU دفتر، نوی ښار دانصاري څلور لارې، انصاف هوټل ته مخامخ،

ددیرو معلوماتو لپاره په لاندې پته اړیکی ونیسی :

publications@areu.org.af

# حقوقي مسايل

**په افغانستان کی حقوقي مسايل، دځمکې قباله او ثبت**

Yohannes Gebremedhin. Kabul: USAID, Emerging Markets Group, 2005, 15 p; 30 cm. "July 2005".

په افغانستان کی دځمکودنیولو حالت دیوي ګډوډۍ په توګه ګڼلې شو،زیاتره ځمکې درواجي یاعرفي قبالو له مخې او نوريي بیاد دوه اړخیزو دعوو له مخې نیول شوي دي.همدا ډول دثبتولو اوسني مراحل د قضا پړاوونه لري چی له دی امله افغانستان دیو جلااو دځمکې ثبتولو قانون ته ضرورت لري.همدا راز افغانستان دپریکړو هغه قانون ته هم ضرورت لري چې په ترځ کی یي پرځمکه دمدعیانو دعوې وارزول شي، اختلافي دعوې حل او عرفي قبالي په رسمیت وپیژندل شي. سربیره پردې باید دنقشې له مخې دځمکې قانوني واک،سروي،او نور اړونده کارونه په روښانه ډول ترسره شي. دځمکې نیوني اوترلاسه کولودموضوع حل په افغانستان کی دسولې دتامین په لاره کی یوارزښتمن عنصردي.

په افغانستان کی دځمکې نومونې او ثبت پروژه دافغانستان له دولت سره د جایدادونو دسالمو حقوقو، د ځمکو دنومونې او ثبت دپړاونو دساده کولو، اودقانوني چوکاټ په ترځ کې دشتمنیوو دحقوقو روښانه کولو په لاره کې مرسته کوي چی په پایله کې به یي دځمکوالۍ دکنترول بیه اغیزمنه شي، چی دغه کار به داقتصادي ودې ، دځمکو دمساوي استعمال، دځمکودراکړې ورکړې ټیټ نرخ، دغریبووګړو دحقوقو ساتنې او دژوندانه په ښه والي کې به اغیزمن تمام شي.

دغه راپور دغیررسمي هستوګنو، دځمکې دپریکړو ، ثبت او نورو اړوندو مسایلو په اړه داوسني قانون له مخې تحلیل کړې، نوموړي راپورځنې حقوقي مسایل چی دجایدادونو دحقوقو درسمي کولو، دځمکو دتصفیې پرمختګ او دثبت قانون دی هم په نښه کړي.

**دافغانستان په اسلامي جمهوریت کی دښاروالۍ قانون.**

Municipal law in the Islamic Republic of Afghanistan: an issue and options paper: draft of 12 August 2005 / Patrick McAuslan. [Kabul]: [UNHabitat], 2005. 32 p,; 30 cm.

**دافغانستان په اسلامي جمهوریت کی دښاري ځمکو قانون**

Urban land law in the Islamic Republic of Afghanistan: an issue and options paper: draft of 12 August 2005 / Patrick McAuslan. [Kabul]: [UNHabitat], 2005, 45 p,; 30 cm.

# بیا رغاونه

A review of DFID involvement in Provincial Reconstruction Teams(PRTs) in Afghanistan: submitted to the Department for International Development (DFID), London / Dylan Hendrickson. Michael Bhatia, Mark Knight, Annabel Taylor. London: Conflic, Security and Development Group, International Policy Institute, King's College, 2005. 56,; 30 cm. Bibliography, p. 55-56.

دغه ګزارش لیکي:
دانګلستان نړیوال پرمختیایي پروګرام دلندن کینګ کالج پردی ګمارلې چی په افغانستان کی دبیارغاوني په ټیم کی ددغه پروګرام دبوختیا ارزونه وکړي. دبیارغاوني ټیم یا پي ار ټي دنړیوالو ملکي اونظامي وګړو هغه ګډ ټیم دې چی په افغانستان کی دسولې دثبات او مرستندویه چارو په ترسره کولو کی پرفعالیت بوخت دی. په بیارغاونې او امنیتي عملیاتو کی دولایتي بیا رغاونې دټیم نقش چی په دغه ځانګه کي یي لوبولې دې ټولو ونډه لرونکو هیوادونو ته پرانستي دې.
دکینګ ټیم څخه غوښتل شوي چی د ډي ایف ای ډي دتجربوچی په تیرو دوه کلونو کی یي ترسره کړي پلټنه وکړي او دولایتي بیا رغاونې له ټیم سره په خپلوراتلونکو پریکړوکی مشوره وکړي.
په دغه راپور کی راغلې مشورې درې موضوعګانې په نښه کوي:
* لومړې دافغانستان له شمال څخه جنوب ته دانګلستان دنظامي سرچینودچمتو لیږدولو په اړه ډي ایف ای ډي او دولتي همکارانو ته ښوونه کول.
* دویم،ددغو بدلونونو په رڼاکی ډي ایف ای ډي څه ډول کولای شي دولایتي بیا رغاوني له ټیم سره خپلواړیکو ته بڼه ورکړي، چی په ترڅ کی یي پرمختیایي مشاورین په غوره توګه وکارول شي.
* دریم، ددی لپاره چی دولایتي بیا رغاونې دټیم بحث په اغیزمن ډول طرحه او ارزیابي شي ډي ایف ای ډي باید په کومه ساحه کی خپلې راتلونکې هڅې متمرکزې کړي.
په افغانستان کی ساحوي کار دفبروري- مارچ ۲۰۰۵ کال په جریان کی پیل شو چی په کی دولایتي بیا رغاونې دټیمونو څخه لیدنې چی په بامیان، جلال اباد، کندهار او مزارشریف کی دهغو پریمانه مرکوپه شمول چی په کابل او بګرام کی ترسره شوې، هم راځي.
دغه څیړنه ښئ ، چی تردی مهاله دپرمختیایي مشاورینو لاسته راوړنې دویناده‌غې ازادۍ څخه راولاړیږي چی دوی ته ورکړل شوې او په ترڅ کی یي دوی پخپله پروګرامونه جوړوي.
د ډي ایف ای ډي لپاره یوبل قوي جوړښت شته چی دلارښوونو اوفعالیتونو د پیژندلو لپاره یو مشرح چوکاټ ته پرمختګ وکړي.
دپرمختیایي مشاورینواغیزاو باور په ځانګړي توګه په پالیسي جوړوونکي نظامي کړۍ کی هغه مهال لا نور هم ډیر شي که چیرته یو غښتلې بنسټ ددوی دفعالیتونو دموثریت لپاره رامنځته شي.
دا به همدا ډول هغه هڅې اسانه کړي چی دانګلستان دحکومت موخه چی همدا اوس یي دولایتي بیا رغاونې ټیم ترسره کوي، خپله په انګستان او نورو هیوادونو کی دپاملرنې وړ وګرځوي.

# د افغانستان دڅېړنې او ارزيابۍ واحد تازه او راتلونکي

## نوې خپرونې:

### A-Z دافغانستان ښوونې مرستندويه کتاب له الف تر يا

د۲۰۰۵ کال دغه خپرونه دافغانستان ښوونې يو مرسته کوونکې کتاب دې چې دمهمواړيکو نوی شوې برخه، دحکومتي لارښود، پارلماني ټاکنې، نقشې او د ای-زيډ کومکي اړيکی په ځان کی رانغاړي.

### په افغانستان کی دپارلماني ټولټاکنو لارښود:

دغه لارښود چې په انګليسي اودري دواړو ژبو کی شته دولسي جرګې او ولايتي شوراګانو دټاکنو په اړه دمعلوماتي سرچينوټولګه ده چې دټاکنو دپړاوونو دبيانولوادبيلابيلو کردارونو بوختيا او دمهمو مسايلو په شمول چې په ټاکنيزو مقرراتوبه اغيزوبښندي،په دغه خپرونه کی شامل دي. په دغه خپرونه کی ځنې هغه بيلګې چې دولسمشرۍ له ټولټاکنو څخه زده شوي ازمايل شوي، او همدا دول دولسواليوو دشوراګانو موضوع او مشرانو جرګې دترسره کيدو خبره هم څرخيدلې ده.

### يو،ځای پرميز: افغاني ښځې، سړي، اود پريکړه کوونکو واک:

دغه خپرونه د افغانستان دڅېړنې او ارزيابۍ واحد دڅېړنو له مخې دملي پيوستون په پروګرامونو،او په ولسي اساساتو کی دښځو دونډې په اړه کښل شوی، دغه خپرونه پرمختيايي ماهرينو ته چلنج ورکوي چې دجنسيت (جندر) پروګرامونو فرصتونه ، دکړنلارو جوړونه او دموفقيتونو ښوونه مشخصه کړي.

## ښاري ژوند ته مخه کول:

دافغانستان دڅېړنې او ارزيابۍ واحد د ښاري بې وزلود ژوندانه په اړه په درې ښارونو(هرات، کابل او جلال اباد) کی څېړنې کړي او موخه يي داده چې په افغانستان کی دښاري غربت په اړه د بنسټيزې پوهې خلا په ګوته کړي.
په دغه رساله کی دری موضوعګانې په ګوته شوي چې دڅېړنو له مخې به لاندې توکي په نښه کړي:
* سرچينوته او دپور(قرض) بيلابيلو ډولونو ته منظمه رسيدنه.
* دهستوګنې او جايداد امنيت.
* دټولنيزو اړيکو څرنګوالې او څارنه.

## راتلونکی خپرونې

په راتلونکو مياشتو کی به دافغانستان دڅېړنې او ارزيابۍ واحد لاندې خپرونې ولري:
* په افغانستان کی دبازا پيژندنه، دتيلو دواردولو په اړه يوه څيړنه
A Case study of Fuel Imports
په افغانستان کی دبازار پيژندنه( ددرملو دبازار په هکله څيړنه*
A Case Study of the Pharmaceuticals Market
* په افغانستان کی دبازار پيژندنه(د دويمې درجې دموټردبازار څيړنه)
A Case Study of the Market in Second Hand Cars
* افغانستان ته راستنيدنه؟(دمشهد ميشتو افغانانو په اړه څيړنه)
A Case Study of Afghan living in Mashd
* دملي پيوستون دپروګرامونو دستونزو حل.
* د ژوند دښه والي بديل؟ مضمون که شعار

# په پاکستان کی دافغانانو سرشميرنه ( ۲۰۰۵ )

دملګرو ملتونو دکډوالو ادارې او دافغانستان - پاکستان دحکومتونو لخوا:
دهغه اتلس مياشتني پلان له مخې چې دملګروملتونو دکډوالو اداره، اودافغانستان- پاکستان حکومتونه يې په کار ي ګروپ کی شامل دې د ۲۰۰۴ کال په نيمايي کی دافغانانود سرشميرنې او نوم ليکنې پروپوزل عملي شو.ددغه پروپوزول له مخې دملګروملتونو دکډوالو ادارې يا يونسيار(UNHCR) دپاکستان له دولت سره چې دپاکستان لخوا دسرحد ايالت وزارت او دافغاني کډوالو دعالي کمشنرۍ لخوا ددسمبر په ۲۰۰۴ کی دتفاهم يوقرارداد لاسليک کړ پروژی سره پرتړلي يوپړاو موافقه وشوه او څلور راتلونکي پړاوونه ومنل شول.

* طرحه جوړوونه او دفتډترلاسه کول
* لومړي پړاو: کور په کور سرشميرنه، دمعلوماتو ثبت او دپايلو خپرول
* دويم پړاو:دسرشميرنی شننه او تحليل
* دريم پړاو: نوم ليکنه

يو راپور دلومړي پړاو پر تکميل څرخيږي او زياتوي: دسرشميرنې پړاو تازه دکاري ګروپ لخوا خپور شو.

Census of Afghans in Pakistan 2005 / Ministry of State and Frontier Regions, Government of Pakistan, Population Census Organization, Statistic Division, Government of Pakistan, United Nation High Commissioner for Refugees, Branch Office, Islam abad, 2005. 76 p ; col maps '30 cm.

ددغه راپورپه عمده برخه کې ( د سرشميرنې لنډيز څخه) لاندې توکي هم شامل دي:

په پاکستان کی دافغانانو **ټول شمير** ۳،۰۴۹۲۶۸ وو، چې دکورنيوو منځنې اندازه ۵,۶ غړيوو پورې رسيږي.
**عمر**: دټولو افغانانو ٪۱۹،۴ فيصده دپنځوکلونو څخه لږ ماشومان جوړوي، چې ۱۵- ۲۰ پورې د پرمختلونکو هيوادونودپنځو لاندې وګړي تشکيلوي.

## دکډوالو کمپونه او له کمپ څخه بيرون ميشتي :

٪۱،۲۹ مليونه ٪۴۲،۳ افغانان په کمپونو کی اوسيږي، او ۷۵، ۱ مليونه ٪۵۷،۷ له کمپونو دباندې او ياهم په ښاري او اطرافي سيمو کې اوسيږي.

## قوميت :

د پاکستان په ټولو سيمو کی دافغانستان ستر اکثريت (پښتانه) چې ٪۸۱،۵ فيصده جوړوي اوسيږي. سره له دی چې د پښتنو طالبانو له منځه تګ وروسته دلړکيووکاروانونه هم بيرته ستانه شول. داسې ښکاري چې دپښتنو ستنيدونکوکډوالوسلنه نسبت دهغوی لومړۍ ستنيدنې ته چی په ۲۰۰۲ کال کی دطالبانو درژيم له نسکوريدو وروسته ترسره کيده اوس ډيره ده.

## پاکستان ته دلومړي راتګ پړاو:

دشوروي اتحاد ديرغل پرمهال د ۱۹۷۹ او ۱۹۸۵ کلونو ترمنځ ٪۸۰،۷ افغانان پاکستان ته را کډه شول. ددغه مهاجرت بهير هغه وخت نور هم ګړندې شو چی کله په ۱۹۸۵ کی جګړې نور هم زور واخستو اوسرحدي سيمي هم له

وګړو تشی شوی. دریم بهیر په ۱۹۹۰ کلونو کی چی مجاهدینو دشوروي اتحاد لاسپوځی حکومت رانسکور او پرځای یي دوی واک لاسته راوړ. لړه کیوو دکورونو پریښودو ته مخه وکړه او بیاپه ځانګړي ډول د ۱۹۹۰ په ورستیوو کلونو کی چی طالبان واکمن شول دغه بهیر لاپسې ګړندي شو.

## په پاکستان کی دهستوګنې ایالت :

(په پاکستان کی دولسوالۍ په کچه هستوګنه) ۴۸،۱٪ دټولو افغانانوشمیرچې دپاکستان په پنځو ولایتونو کی میشت شول : پیښور(۲۰،۱٪ ). کویټه ( ۱۱،۱٪ ) نوښار ( ۷،۶٪ ) پشین ( ۵،۱٪ ) کراچۍ ( ۴،۳٪ ) او پاتې یي د پاکستان په نورو سیمو او ولسوالیوو کی تیت شوي.

## په افغانستان کی اصلي ولایت :

۶۱. ۲ % افغانان په افغانستان کی دلاندې شپږو ولایتونو پورې تړاو لري: ننګرهار ( ۱۷،۲٪ ) کابل ( ۱۰،۷۵٪ ) کندهار ( ۹،۸٪ ) کندوز ( ۸،۴٪ ) پکتیا (۸،۳٪ ) او کنړ ( ۶،۸٪ ). اونور ۵۱،۲٪ د ۱۱ سرحدي ولایتونو اوسیدونکې دي.

## افغانستان ته دبیرته ستنیدنې هوډ:

له کورنیوو څخه دراټولو شوو معلوماتو پربنسټ ۱۷،۴٪ افغانان هوډ لري چی په ۲۰۰۵ کال کی بیرته خپل هیواد ته ستانه شي په داسې حال کی چی اکثریت ۸۲،۶٪ دا ورځ قصد نه لري. که چیرته دا راپورونه سم وخیژي نو ښایي د ۲۰۰۵ کال ترپای پورې په پاکستان کی دافغانانو شمیر۲. ۵ ملیونه ومنل شي.

## دستنیدنې مثبت هوډ:

هغه ۷۴٪ فیصده افغانان چی په ۲۰۰۵ کال کی هیواد ته دبیرته ستنیدنې قصد لري له پنډغالو بهر میشت دي.

## پرولایتي کچه دستنیدنې مثبت هوډ:

نږدې ۵۰،۰٪ دهغو انفرادي افغانانو چی دبیرته ستنیدنې قصدلري دپاکستان په دغوځلورو سیمو کی اوسیږي: کویټه، بلوچستان ( ۱۹،۵٪ ) پیښور صوبه سرحد( ۱۸،۷٪ ) کراچۍ سند( ۶٪ ) کلاعبدالله بلوچستان ( ۵،۴٪)

## دبیرته نه ستنیدنې لاملونه :

۷۵،۲٪ خلکو ویلي چی دوی دسرپناه دنه لرلو له کبله افغانستان ته دبیرته ستنیدو اراده نه لري. ۱۸،۲٪ خلک دژوندانه داسانتیاوو نه شتون او ۱۷،۸٪ بیا دامنیتې ستونزو خبره رامنځته کوي.

په لومړیوو کلونو کی چی په خپله خوښه دستنیدنې پروګرام عملي کیده، بې امنیتي دیوستر لامل په توګه مطرحه وه، خو اوس یواځې ۱۸ فیصده خلک دغې ستونزې ته اشاره کوي، چی سربیره پردې ۲۱ فیصده بیا دشخصي دښمنیوو له مخې له بیرته ستنیدنې پاتې کیږي. په هرحال په پنډغالو کی میشتې افغانان ۶۴ په سلو کی دسرپناه نه شتون دخپلې ستنیدنې پروړاندې خنډ بولي، چی دژوندانه داسانتیاوو د نه شتون خبره یواځې ۱۲ فیصده کوي چی نسبت نورو ستونزو ته په ټیټه کچه ګڼل کیږي.

## معیشت :

دژوندانه داسانتیاوو سرچینې، دکورنیوو دګډندونو له مخې دا ښئ چی : دکورنیوو لوی اکثریت ۵۳. ۳ دورځني مزد دشته والي پرته ژوند کوي. او دوی ښایي له دغه حقیقت څخه ډیرخه کم ووایي، ځکه چی ۱۹،۲٪ دخپل ځاني دوی ته کار ورکړل شوي. په هرصورت، ۱۰۰،۰٪ وایي چی دوی کارونو لخوا خپل ژوند ته ادامه ورکوي، یواځې ۸،۱٪ وایي چی پرهغو عوایدو خپل ژوند پرمخ بیایي چی دکورنیوو دغړیوو لخوایي چی له هیواده بهرپه کارونو بوخت دي او دوی ته یي رالیږي.

# کوچيان:

سرشميرني ښودلي چې دافغانانو ٪۱۶ څانونه کوچيان بولي، او ددوی نه ستنيدنه څمکو ته دنه لاس رسيدني ستونزه بلل کيږي. دوی هم دنورو افغانانو غوندې د۱۹۸۰ کلونو په شاوخوا کې پاکستان ته راوکوچيدل چې په ترخ کې يي ددوی کوچياني ژوند هم تيت شو.ددوی ډيره په سرحد صوبه، او بلوچستان کې ديره شول خو ددوی پام ور شمير په پنجاب ايالت کې هم ديره شول چې هلته يي دټولو افغانانو ۴۰ فيصده جوړول.اکثره کوچيان دافغانستان دمرکزي، شمالي او ختيځو ولايتونو پوري تړلي دي چې دوګړو ۷۹،۷ فيصده جوړوي. ددوی ٪۶۱،۰۰ څانونه پرورځنيو مزدوريو متکي بولي، او يواځي ٪۵،۰۰ وايي چې دوی ته کار ورکړل شوې. دوی هم دبيرته ستنيدني پلوي دي خو نزدې ٪۷۹،۰۰ يي بيا دنورو افغانانو په شان هماغه ستونزې په ګوته کوي.

## له پاکستان څخه افغانستان ته بيرته ستنيدنه:

په دسمبر ۲۰۰۱ کې دبن له تړون وروسته دملګروملتونو دکډوالو اداري دخپلې خوښې بيرته ستنيدني پروګرام په ۲۰۰۲ کال پيل کړ چې له امله يي تردی مهال ۲،۴ مليونه افغانان بيرته خپل هيواد ته ستانه شوي دي.

ددغه مطلب بريښنايي پاڼه تاسو کولای شی له دی لاري ترلاسه کړی :
newsletter@areu.org.af

# نوري خپروني

## دمخکينيو تازه خپرونو سربيره، بيلابيلو ټولنو او سازمانونو لاندې خپروني هم راليږلي :

### پوهنه (تعليم)

Result and discussion data collected in the Afghanistan National Risk and Vulnerability Assessment 2003. Kabul: National Risk and Vulnerability Assessment [Office], 2005. 44 p ; col> maps; 30 cm. “ April 2005” – cover. Available at http://www.mrrd.gov.af/vau/NRVA_2003.httm

Survival, drop-out and other indicators: compilation of some basic school statistics in the Afghan School system / analysis WFP CO AFG. Education Unit> [Kabul]: World Food Programme, Afghanistan, [2005]> 14 p ; 27 cm. “ Main source< UNICEF RALS (Rapid Assessment of Learning Spaces) 2002 and 2003/4 data” –cover> Available from Reports section, WFP (Peace Street) Kabul.

## ټاکني

دافغانستان ټاکني:

دلوبوپای او که نوي پيل ؟

Endgame or new beginning? Kabul: International Crisis Group, 2005. 33 p ‘30 cm. (ICG Asia report; no. 101) Available at: http://www.crisisgroup.org/

افغانان پارلمان ته ځي

Afghans go for parliament / Aunohia Mojumdar. Himal southasian. (Sept-Oct 2005 Volume 18 no. 2) Available at: http://www.himalmag.com/2005/september/report_1.html

Election archive CD [Electronic resource]; JEMB website, JEMB election documents / JEMB. Kabul: Joint Electoral Management Body

(JEMB). <1> computer optical disc; col; 12 cm. Available from: http://www.jemb.org

## اقتصاد

د ای ایم ایف راپور په افغانستان کی د ۲۰۰۵ کال لپاره د بنسټيزو اقتصادي سرچينو او دمرکزي بودجی په هکله معلومات وړاندي کوي. چی په لاندې پته ترلاسه کیدای شي:

httm://www.imf.org/external/country/AFG/index.htm

**دافغانستان اسلامي جمهوريت:**

Third review under the staff-monitored program and request for an extension / international Monetary Fund. Washington, D.C; 2005. 48 p,; 30 cm. (IMF country report No. 05/128). “April 2005”.

دافغانستان اسلامي جمهوريت:

Fourth review under the staff-monitored program / International Monetary Fund. Washington D.C ; 2005. 47 P,; 30 cm. (IMF country report No. 05/237). “July 2005”.

دافغانستان اسلامي جمهوريت:

Fifth review under the staff-monitored program: concluding statement of the IMF mission. Washington, D.C. International Monetary Fund, 2005 11 p, 30 cm. “August 16, 2005”.

## جنسيت

### په افغانستان کی پوهنه او دجنسيت توپير:

Education and gender disparity in Afghanistan by Farzana Rashid. Williamstown, Massachusetts: Center for Development Economics. Williams College, 2005 42 p, ; 30 cm. “A Graduate Policy paper submitted in partial fulfillment of the requirements for the Degree of Master of Arts in Development Economics”-cover.

دغه خپرونه په افغانستان کی دماشومانودزده کړې او په ځانګړي توګه دنجونو دتعليم په اړه دپرتو خنډونو په اړه پلټنې کوي، په دغه خپرونه کی ویل شوي چی له هیواد څخه راټول شوي معلومات دابنې چی په زیاتره ځایونو کی دښوونځیوو لرې والې ،غربت او دماشومانو کارول هغه لاملونه دي چی دواړو جنسيتونو ته يي دزده کړي په لاره کی خنډونه راولاړ کړي دي.

دغه ګزارش په لاندې پته موندلې شي:

http://www.mrrd.gov.af/vau/NRVA_2003.htm

## په ۲۰۰۳ کال کی دجنسيت پرموضوع راپور

NRVA:

2003 National Risk and Vulnerability Assessment (NRVA) / Dominique de Bonis. Kabul: Ministry of Women’s Affairs…[et al.], 2005. 43 p,; 30 cm “May 2005”-cover.

اوپه لاندې پته يي موندلې شی:

www.mrrd.gov.af/vau/NRVA_2003.htm

Result and discussion data collected in the Afghanistan National Risk and Vulnerability Assessment 2003. Kabul: United Nations World Food Programme…[et al], 2005 45 p,; 30 cm “April 2005”-cover.

په لاندې پته يي موندلې شی:
www.mrrd.gov.af/vau/NRVA_2003.htm

## جیولوجي(ځمکه پيژندنه)

Assessing the seismic hazards of Afghanistan: Harley Benz, Michael Machette, Stuart Sipkin, and Russell Wheeler. Denver, Colorado: US Geological Survey, 2005. 3 p,; col. Maps; 30 cm. “April 2005”-caption

Petroleum geology and resources of the Amu Darya Basin, Turkmenistan, Uzbekistan, Afghanistan and Iran / by Gregory F. Ulmishek. Reston, Virginia: U.S. Dept. of the interior, U.S. Geological Survey, 2004. 44 p, ; maps; 30 cm.(U.S. Geological Survey Bulletin; 2201-H). bibliography, p. 28-32.

په لاندې انترنتي ادرس يي موندلی شی:

www.usgs.gov

## روغتیا

Afghanistan National Hospital Survey: final report [electronic resource] / Ministry of Health, Transitional Islamic State of Afghanistan, Kabul: Ministry of Health, 2004, 1 computer disc: col, 12 cm. “August 2004”- cover. Databases:[1] Functional levels summary-[2] General technical indicators summary-[3] Hospital survey database master.

## بشري پرمختګ

دبشري پرمختګ د ۲۰۰۵ کال دغه خپور شوي راپورخنې برخې لري چې دافغانستان پرحالاتو څرخې، او په لاندې پته موندل کیږي:

http://hdr.undp.org/reports/global/2005/

## عدالت

عدالت دټولو لپاره: دا په افغانستان کې دعدلي اصلاحاتو په اړه یوه لس کلنه ستراتیژي ده:

Discussion draft 1, for discussion at the Justice For All Workshop, Kabul, August 2005 / prepared by Afghanistan’s permanent justice institutions in cooperation with their international partners; Islamic Republic of Afghanistan, Ministry of Ministry of Justice, Kabul: Justice 2005. 24 p,; 30 cm.

دافغانستان دولت به دراتلونکو لسو کلونو دعدلیي سکتور د اصلاحاتو په اړه یوه کړنلاره وړاندې کړي، دغه کړنلاره به چې ( عدالت دټولو لپاره) نومیږي د پراخو مشورو وروسته چې د عدلیي په اړه ورکشاپ هم په کې شامليږي ترسره شي. دغه کړنلاره به په پای کې دافغانستان په ملي پرمختیيایي ستراتیژي کې داخلیږي او د راتلونکي پرمختیایي پالیسیو او مالي پلانونو له مخي به په عدلیي سکتور کې پلي شي.

Supporting security, justice, and development: lessons for a new era / Christopher Stone, Joel Miller, Monica Thornton, and Jennefer Trone. New York: Vera Institute of Justice, C2005, 33 p,; 30 cm. “April 2005”-cover. Content: Lesson from police and justice reform (Jamaica, Malawi, Nigeria, India, India) – The special cases of conflict and post-conflict environments (Nepal, Afghanistan, Sierra Leone). – Recommendations for future society and justice development efforts. Available from: http//www.vera.org/pulications

## ځمکه او شتمني

Preliminary assessment of informal settlements in Kabul City / yohannes Gebremedhin. Kabul USAID, Emerging Markets Group, 2005, 31 p,; maps; 30 cm. “March 2005”.

دغه راپور په کابل کې داوسیدونکو غیررسمي رقم معرفي کوي.

A report on Afghanistan’s special property disputes resolution court / Norwegian Refugee Council. Oslo; Norwegian Refugee Council, 2005 47 p,; 30 cm. “ September 2005.” A footnote (p. 1) announces the future publication of NRC’s Property law manual (a collaborative effort between NRC and the UN High Commissioner for Refugees.

## نقشې

نړیوال سوله ساتي ځواک (ایساف) بیلابیلې نقشې لري چې په لاندې پته ترلاسه کیدای شي:

Afghanistan administrative divisions [map] / prepared by HQ ISAF CJ2 Geo. [Kabul]; International Security Assistance Force (ISAF), 2005, 1 MAP: col,; 73 cm x 115 cm. (on sheet 92 cm. x 121 cm). Scale 1:1, 500,000.

(دافغانستان سیمه ایزې نقشې)

شمال ختیځې سیمې، شمال غربي سیمې، جنوب غربي سیمې، جنوب ختیځې سیمې.

[Map] / prepared by HQ ISAF CJ2 Geo. [Kabul]: International Security Assistance Force (ISAF), 2005. 4 maps: col, 71 cm x 114 cm. (on sheet 92 cm. x 121 cm). Scale 1: 800,000

North and south Afghanistan with provinces & districts [map] / prepared by HQ ISAF CJ2 Geo. [Kabul] International Security Assistance Force (ISAF), 2005. 2 maps: col,; 60 cm x 115 cm.(on sheet 92 cm. x 121 cm). Scale 1:150, 000

## رسنۍ (میدیا)

**افغان رسنۍ : درې کاله وروسته**

د التايي مشورتي کمپني او دامريکا متحده ايالاتو نړيوالي پرمختيايي اداري ديو شمير ولايتونو لپاره دمطبوعاتو سروې (چی په راديويي خدمتونو متمرکزې دي ) خپرې کړي دي، پروان- شمالي، باميان، بلخ، بغلان، پروان-کاپيسا، دهرات ختيځ دهرات ښار، وردګ، بدخشان، غربي هرات- غوريان، غور، غزني، لوګر، خوست، ننګرهار، او کندهار. دغه ټولې سروې (پلټنې) په لاندې انترنتي ويب پاڼو کی پيدا کيږي:

http//www.altaiconsulting.com/dyn/monitoring-and-evaluation/project/media-evaluation-reports.html

## مهاجرت

**له غربت څخه بيرون وتل:**

Migration insights from rural Afghanistan / Negar Ghobadi, Johannes Koettl and Renos Vakis. [Kabul]: [Ministry of Rural Rehabilitation and Reconstruction?] , 2005 . 29 p,; 30 cm. Migration as a poverty reduction strategy for rural households in Afghanistan. An
Earlier draft of this paper is available at: http://www.mrrd.gov.af/vau/NRVA_2003.htm . The latest draft will appear on:
www.areu.org.af

همدا ډول کولای شې دلاندې بريښناليک سره په تماس کی شی:
brandy@areu.org.af

## موسسې

Capacity building for Afghan NGOs: community mobilization training, March 13-15 2005, kandahar, Afghanistan / training designed and conducted by Khalid Saleem, Muhammad Tahir Waqar. Capacity Building for Agricultural Revival Project (CaBARP). Kabul: Organization for Research and Technical Support ( O-ReTechs), 2005. 35 p,; 30 cm.

دافغاني موسسو لپاره داستعدادونو دودې ترينګ: مارچ ۱۳- ۱۵ ۲۰۰۵ پورې. کندهار افغانستان.، دغه ترينګ دخالد سليم او محمد طاهر وقار لخوا ترتيب او ترسره کيږي.

Study report on partner NGOs communication systems: towards producing a web-based rural development resource center / CaBARP,Novib / O-Re-Techs; Kanishka Nawabi. Kabul; CaBARP, Novib/O-Re-Techs, 2005. 42 leaves; 30 cm. “January 2005”

## ترياک

The FARC and the Taliban’s connection to drugs / Alain Labrousse; translated by Laura Garces. Published in the Journal of Drug issues 2005 (p.1-14?)

Prepared from the working Day on Drug Policy, 30 June 2005, Kabul / Senlis Council. Kabul: Senlis Council, 2005 ca. 25 p,; 30 cm. Contents: [Agenda].-Index for information pack-Feasibility study on opium licensing in Afghanistan for Production of morphine and other essential medicines: index (9 leaves).- study on opium licensing in Afghanistan for production of morphine and other essential medicines. Academic partners (6 leaves). – Announcement [ 30 May 2005] (2 leaves). – the 2005 Kabul International Symposium: Drug Policy, Challenges and responses ( 2 leaves).- The Senlis Council (4 leaves).

دغه ګزارش دهغه کاري ورځې مطالب دي چی د نشه ايي توکو دکرنلارې په اړه په ۳۰ دجون ۲۰۰۵ کی ترتيب شوې وه، په دغه ګزارش کی دهغه ممکنه څيړنې ذکر هم راغلې دی چی په افغانستان کی د درملنې لپاره د ترياکو څخه د مورفينو دتوليد په اړه د اجازه ليک وړاندې کول دي.

## امنیت:

Mapping the Security environment: understanding the perceptions of local communities, peace support operations, and assistance agencies / Antonio Donini, Larry Minear, lan Smillie, Ted van Baarda, and Anthony C, Welch, Medford, MA Feinstein International Famine Center, School of Mutrition Science and Policy, 2005 xil, 96 p,; col ill,; col, maps; 27 cm. Case study of Afghanistan "Peace is jobs and electricity"- p. 8-21 Availbale from : www.famine.tufts.edu

په دغه گزارش کی دامنیتي چاپیریال پیژندل، دمحلي ټولنو ارزښتونه درک کول، دسوله ایزو عملیاتو ملاتړ او مرسته کوونکي اداري په گوته شوي دي،

په افغانستان کی حالات او دنړیوالې سولې او امنیت په اړه دهغوې روښانه کول:

The Situation in Afghanistan and its implication for international peace and security: emergency international assistance for peace, normalcy and reconstruction in war-stricken Afghanistan / report of the Secretary – General. 20 p,; 30 cm "United Nations General Assembly, Security Council. Sixtieth session, Items 17 and 74 (e)of the provisional agenda" "12 August 200."

په لاندې انترنتي ویب پاڼو کی موندل کیږي:
http://www.un.org/Docs/sc/sgrep05.htm

## تخم

دتخم ملي پالیسي، دافغانستان اسلامي جمهوریت، کابل، افغانستان د کرنې ،مالداري او خوراکي توکو وزارت ۲۰۰۵.

National Seed Policy / Islamic Republic of Afghanistan, Kabul Afghanistan: Ministry of Agricultural, livestock and Food, 2005 il, 21, 22 p.

## سرشمیرنه

Afghanistan index from the Broooking institution updated June 30, 2005.

دغه مطلب په لاندې پته ترلاسه کیدای شي:
www.brookings.edu/afghanistanindex

## میرمنې

دا دهغه یوه ورځني ورکشاپ مطلب دې چی دښځو په وړاندې دزور زیاتي او سرغړونو په اړه دښځو چارو په وزارت کی جوړ شوي وو.

Governmental task force, combating violence against women: one-day workshop, / coordinator, Legal Department, Ministry of Women's Affairs.[ Kabul]: Ministry of Women's Affairs, 2004 13 p,; Cover title, " Date: 24" "November 2004"-cover.

دښځود ټولنیز او سیاسي ګډون په اړه سیمینار :

Seminar: Women's political and social presence 2 March 2005 / [Ministry of Women's Affairs], [Kabul]: Ministry of women's Affairs], 2005. 29 p,; ill,; 29 cm. "Seminar on the women's political & social participation"- civer. Also published in Dari.

په دغه سیمینار کی دبیلابیلو رسمي او ثبت شووسیاسي سازمانونو استازیوو او دسیاسي چارو ماهرینو ګډون کړي وو، او موخه یي هغه موضوع وه چی ښځې څرنګه کولای شي دهیواد په سیاسي او ټولنیزوچارو کی په سوله ایز ډول خپل نقش ولوبوي.

.

### په دی اړه مونږ ته ووایي چی :

ایا تاسو کومه څیړنیزه لیکنه او یا خپرونه چی دافغانستان په اړه وي او تاسو غواړۍ چی له خلکو سره یي شریک کړۍ؟ ایا کوم لست او یا ویب سایت درته معلوم دی چی دافغانستان په اړه څیړونکو ته ګټور تمامیږي؟ او یاداسۍ مطالب چی فکر کوې دافغانستان په اړه دڅیړونکواو هغو کسانو لپاره چی دبیارغاونې په کارونوبوخت دي په زړه پورې دي نو دافغانستان دڅیړنو خبرپاڼه چمتو ده چی په راتلونکي خپرونه کی یي شامل کړي. مونږ ته په لاندې بریښنالیک خپل مطلب راواستوی:

newsletter@areu.org.af

دافغانستان دڅیړنو خپرپاڼه دوه میاشتینۍ خپرونه ده چی دافغانستان دڅیړنو او ارزیابی واحد دکارکوونکو برندي بوییر، رایس وایلز، فریدون شارق او عنایت صافي لخوا برابریږي. دافغانستان دڅیړنو او ارزیابۍ واحد یو ناپییلې څیړنیز سازمان دی چی دتعمیل وړ مطالعې ا وڅیړنې دپالیسیوو داسانتیاوو په منظور ترسره کوي، د افغانستان دڅیړنو او ارزیابۍ واحد دخپرونو په هکله نور معلومات په لاندې انترنتي ویب پاڼه کی ترلاسه کولای شی:

www.areu.org.af